# مسیر

ورځپانه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۸مه | ۵۱۶مه ګڼه


ځېره

۴ مخ



## سیمون دو بووار

سیمون دو بووار له نن څه باندې سل کاله مخکې په فرانسه کې دې نړۍ ته راغلې ده. هغه د شلمې پېړۍ تر ټولو مشهوره، روشنفکره او پیاوړې مېرمن وه. هغې نه یوازې په ادبیاتو، بلکې په فلسفه، ټولنیزو مبارزو او د ښځو د حقونو په تامین کې ځانګړی نوم درلود.

# د موازي حکومت پر دریځ ټینګار؛

## عبدالله عبدالله: غیر شفافې پایلې نه منم او د خپل ټیم له پرېکړو ملاتړ کوم



۳

## په کونړ کې د نږدې ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت دوې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د کونړ ولایت په مرکز اسعداباد کې د نږدې ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت د دوو پروژو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د دغو پروژو د پرانیستې په مراسمو کې د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار، د کونړ والي او نورو چارواکو برخه اخیستې وه.

د کونړ والي عبدالستار میرزکوال ویلي، د سیدجمال الدین افغان پوهنتون د احاطې دېوال چې د هندوستان د ۲۶،۱ میلیونو افغانیو په لګښت او په مرکز اسعداباد کې د دیني مدرسې ودانۍ چې د کرکېټ بورډ په ۳،۹ میلیونو افغانیو لګښت جوړې شوې، ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

میرزکوال زیاته کړې، سږ کال به د ولسمشر د ژمنې پر اساس په کونړ ولایت کې د لسګونو ښوونځیو لپاره اساسي ودانۍ جوړې کړي. د سید جمال الدین افغان پوهنتون رییس محمد ګلاب عمري ویلي، تر اوسه یې پوهنتون احاطه نه لرله چې له امله یې دوی له ډېرو ستونزو سره مخ وو چې اوس یې دغه ستونزه حل شوې ده.

### تېرې ټاکنې؛ یوازې سرخوږی چې باید ځان ترې خلاص کړو

۲ مخ

### د سولې پروسې تخریبوونکي نور څه غواړي؟

۲ مخ

### د پخواني شوروي ځواکونه چا له افغانستانه وشړل؟

۳ مخ

## حنفي: له امریکایي اړخ سره د هوکړې تر لاسلیک وروسته پنځه زره طالب زندانیان هم ازادېږي

په دوحه کې د طالبانو او متحده ایالتونو مذاکرات چې نهایي بلل کېږي، اوس دواړه لوري د تاوتریخوالي کموالي او تر هغې وروسته د هوکړې لاسلیک لپاره پر چمتووالي بوخت دي.

د طالبانو د قطر دفتر غړي مولوي عبدالسلام حنفي په خپله یوه تازه مرکه کې ویلي، چې د دوی او امریکایي لوري تر منځ هرڅه نهایي شوي او د تاوتریخوالي کمښت مودې تر پای ته رسېدو وروسته، د فبروري میاشتې په ۲۹مه نېټه به د دوی او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي. هغه زیاته کړې: «موږ له امریکایانو سره په دې اواخرو کې ښه مجلسونه درلودل، خبرې پای ته رسېدلې دي او هوکړه نهایي شوې، دواړو لورو پر دې توافق کړی چې د روانې میاشتې تر اخره به هوکړه لاسلیک شي.»

نوموړي ویلي چې د هوکړې تر لاسلیک وروسته یو مهم شرط دا دی، چې د دوی پنځه زره بندیان به ازادېږي او دوی هم د افغان لوري زر بندیان ازادوي. حنفي زیاته کړې چې د پنځو زرو بندیانو د ازادېدو پروسې تر بریالیتوب وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیلېږي.

د طالبانو د قطر دفتر ویلي چې د سولې هوکړې د لاسلیک مراسمو ته چې په دوحه کې لاسلیک کېږي، د افغانستان د ګاونډیانو او په سوله کې د دخیلو هېوادونو تر څنګ، د نړیوالو سازمانونو او اروپایي ټولنې استازي هم ور بلل کېږي.

خو د سولې له مذاکراتو باخبره کسانو ویلي، چې د طالبانو او امریکا تر منځ د تاوتریخوالي د کموالي موده کې ښایي د ځینو مخربو او سولې ضد کړیو له لوري د بریدونو د تر سره کېدو هڅې وشي، خو طالبان او امریکایي لوری له موجود وضعیت څخه جدي څارنه کوي.

## د تاوتریخوالي کمښت به دایمي اوربند او سیاسي جوړجاړي ته لار پرانیزي



۵ مخ

## نهادهای مدنی: اگر قیمت انترنت کاهش پیدا نکند، خیمه های تحصن را بر پا می کنیم



شماری از نهادهای مدنی، بر قیمت بلند انترنت در افغانستان انتقاد نموده و می گویند که اگر تا یک هفته قیمت انترنت ۵۰ درصد کاهش پیدا نکند، خیمه های تحصن را بر پا می کنند.

این درحالیست که فهیم هاشمی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در سیزدهم دلو گفته بود که فی جی بی انترنت، برای شرکت های مخابراتی ۹ افغانی تمام می شود و آنها فی جی بی را ۱۸۰ افغانی به فروش می رسانند.

سرپرست وزارت مخابرات، ۱۴ روز مهلت خواسته بود تا قیمت انترنت را کاهش بدهد.

ده ها تن از فعالان مدنی و شماری از شهروندان کشور، با تجمع در پارک شهرنو کابل خواستار کاهش ۵۰ درصدی قیمت انترنت در کشور شدند.

خلیل شنکر رئیس سازمان مثبت یک گفت، با وجودی که سرپرست وزارت مخابراتی تعهد کرده بود که طی چهارده روز، قیمت انترنت کاهش پیدا می کند، تا کنون در مورد هیچ اقدامی صورت نگرفته است. او گفت که بارها وزارت مخابرات از کاهش قیمت انترنت خبر داده؛ اما شرکت ها تا کنون حاضر نشده اند که قیمت را کاهش بدهند.

در همین حال سید حامد منصور سخنگوی وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در صحبت با پژواک پذیرفت که سرپرست وزارت مخابرات، ۱۴ روز مهلت برای کاهش قیمت تعیین کرده بود؛ اما گفت، به دلیل اینکه شرکت های مخابراتی برای بررسی، مهلت بیشتر خواسته اند، قیمت ها کاهش پیدا نکرده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

### تېرې ټاکنې؛ یوازې سرخوږی چې باید ځان ترې خلاص کړو

د ټاکنو کمېسیون وایي چې د ټاکنو ځانګړې تفتیش پای ته رسیږي او ورسره به دوی وروستۍ پایلې اعلانوي. د ټاکنو کمېسیون له خوا د رایو د تفتیش دا بهیر د ثبات او همپالنې ټیم بایکاټ کړی او په دې تړاو یې سخت ګواښونه کړي دي. د جنرال دوستم له خوا د موازي حکومت له ګواښ وروسته، اسلامي جمعیت او د کریم خلیلي په مشرۍ وحدت ګوند هم د موازي حکومت د جوړېدو ګواښ کړی دی. له دې سره پرون پر ټولنیزو رسنیو د ټاکنیزو کمېسیونونو د یو کمېشنر دین محمد عظیمي او د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا د مشر حبیب الرحمن ننګ تر منځ د خبرو یو غږیز کلیپ هم خپور شوی، چې پکې ښاغلی ننګ د شکایتونو کمېسیون د پرېکړو پر تحریف او جعل کارۍ تورنیږي.

د ولسمشریزو ټاکنو پروسه له سره مسخره وه. لومړی خو ډېرو کمو کسانو پکې برخه واخیسته چې په هغو کې هم یوه لویه برخه جعل و. له هغه وروسته دا پروسه لانجمنه شوه، ټاکنو کمېسیون د ځانګړي ټاکنیز ټیم پر ملاتړ تورن شو. وروسته کیسه د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته ولاړه، هلته هم ستونزې او تورونه وو. اوس بیا د ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون تر منځ ستونزې دي او د ثبات او همپالنې ټیم یو مخ دا ټول کارونه پلان شوي ګڼي او تور لګوي چې په منظم ډول د قوانینو او کړنلارو خلاف کار روان دی چې یو ځوک پر خلکو د ولسمشر په توګه وتپل شي.

تېرې ټاکنې له پراخ ولسي تحریم سره مخې شوې وې. ډېرو کمو کسانو پکې برخه واخیسته او پایله یې هم افغانستان او افغانانو ته په سرخوږي بدله شوې ده. اوس بیا د موازي حکومت د جوړولو ګواښونه کېږي چې دا بیا یو نوی سرخوږی دی. تېرې ټاکنې په هېڅ ډول مشروعیت نه لري. په څو دېرش میلیوني ولس کې څه ډول شونې ده چې یو ځوک دې په نهه لکه رایو ولسمشر شي؟! دا د قانون، ولسواکۍ او ټاکنو مسخره کول دي.

دا ټاکنې له سره مسخره او نامشروع وې او پایله به یې هم همداسې مسخره او نامشروع وي. لومړی خو داسې نه ښکاري چې دا ټاکنې به پایله ولري، که پایله یې معلومه هم شي، له یوه اړخه به د جعل پر اساس وي او له بله اړخه د کم ګډون له امله به هېڅ ډول مشروعیت ونه لري.

د ټاکنو لوبه باید نوره ځنګ ته شي. تمرکز باید پر سوله وشي. پکار ده چې تېرې ټاکنې یو مخ باطلې اعلان شي. اوسنی حکومت که څه هم پوره نامشروع دی، باید تر هغو خپل کار ته دوام ورکړي چې په بین الافغاني خبرو کې پر یوه انتقالي یا بل حکومت موافقه کېږي. له همدې امله تېرې ټاکنې او پایله دې یې یو مخ لغوه شي او پر سوله دې تمرکز وشي. که د ټاکنو په پایله کې کوم حکومت را وهم وځي، د سولې لپاره موږ اړتیا لرو چې هغه حکومت لغوه کړو او پر ځای یې یو ناپییلی انتقالي یا موقت حکومت جوړ کړو چې د سولې د هوکړو د پلي کولو عملي چارې پر مخ یوسي. له همدې امله نور باید د ټاکنو بد بویه او مسخره لوبه بنده شي او د افغانستان د خلکو پر اساسي غوښتنه او هیله چې هغه سوله ده، باید تمرکز وشي.

# د سولې پروسې تخریبوونکي نور څه غواړي؟

لیکنه: زمریالی اباسین

د طالب استازو او امریکایي ټیم تر منځ نهایي شوې هوکړه چې په اغلب ګومان ژر به لاسلیک شي، څو مهمې پایلې لري: د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش به مشخص شي، د ترهګرۍ ضد جګړې په اړه به ضمانتونه تر لاسه شي، د افغانانو تر منځ د تفاهم، مذاکراتو، مصالحې او توافق په نتیجه کې به د ټولمنلي نظام رامنځ ته کېدو او تر ټولو مهم «سرتاسري او دایمي اوربند» ته به لار هواره شي.

د باور وړ معلوماتو او لومړی لاس سرچینو د ویناوو پر اساس، د امریکا او طالبانو تر منځ توافق په پایله کې د لومړۍ جوپې په توګه له څلور تر پنځه زره امریکایي سرتېري له افغانستانه وځي. له موجودو شاوخوا ۱۳۵۰۰ سرتېرو به ۸۶۰۰ بهرني سرتیري په افغانستان کې وي او د بین الافغاني توافق تر رامنځ ته کېدو، د بین الافغاني توافق په صورت کې په مشروط ډول به له دوو تر دریو کلونو له افغانستانه وځي.

د احتمالي توافق بل اړخ یې هم د طالبانو له خوا نه یوازې له ترهګرو سره د نه همکارۍ؛ بلکې د دغو ډلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د تضمینونو ورکول دي. تضمینونه په دواړو جهتونو کې که د امریکا له خوا دي او که د طالبانو له خوا، په نړیوالو معیارونو د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو او هېوادونو په شتون او ډاډ کې ورکول کېږي. له ځینو طالب استازو سره په خبرو کې دې نتیجې ته سرې رسیږي چې دوی د القاعده ملاتړ او ځینې نورې کړنې چې د امریکا او د هغوی د متحدینو د بریدونو لامل شول، یوه تېروتنه بولي او غواړي اوس یې اصلاح کړي. اصلاح که اتلس کاله څه چې سل کاله وروسته هم وشي، د راتلونکو نورو کلونو تر دوامداري تېروتنې ښه وي.

د زلمي خلیلزاد په استازیتوب د دغې پیل شوې پروسې تر ټولو مثبت اړخ یې دا دی چې هر څه په خورا مهارت په ځنځیره اي شکل تنظیم شوي؛ هماغسې چې هغه وایي، «پر یو شي هم توافق نه شي کېدلی څو چې پر ټولو څلورو مواردو (د طالبانو له خوا د ترهګرۍ ضد تضمین ورکول، د بهرنیو ځواکونو وتل، بین الافغاني توافق او سرتاسري اوربند) توافق نه وي شوی.» دا په دې مانا چې د افغانانو تر منځ جوړجاړی پخپله د امریکا او طالبانو تر منځ په احتمالي توافق کې ځای لري او عدم یې د دغه توافق ځینې مادې نفې کوي او دویم توافق (بین الافغاني جوړجاړی) له لومړي توافق (د امریکا او طالبانو تر منځ توافق) له یو بل سره نښلوي او دواړه سره ضمیمه دي. ټول نړیوال او باور وړ سازمانونه او بنسټونه به دا هر څه ګام په ګام څاري او ارزونه به یې کوي.

تر اوسه د پام وړ پرمختګونه چې جدي اړتیا یې وه، رامنځ ته شوي: د طالبانو له خوا نرمښت ښودل (د حکومتي استازو شتون په مذاکراتو کې منل، له امارت په شاکېدل او پر ټولمنلي شریعي نظام توافق، د بندیانو د تبادلې او ازادۍ په هکله هوکړه، د تاوتریخوالي راکمول په ځانګړې توګه ځانمرګي بریدونه او درنې چاودنې، د بین الافغاني توافق په نتیجه کې دایمي اوربند ته غاړه کېښودل، له پخوانیو جهادي او حکومتي مشرانو سره مذاکراتو ته تیاری ښودل)، د امریکا له خوا تر نظامي تاکتیکونو پر ډیپلوماټیکو چارو تمېدل، د ملي یووالي حکومت د نیمایي برخې او سیاسي ګوندونو، د نظام د مهمو څېرو او ځینو نورو افغان اړخونو یوغږ کېدل، په سیمه او نړۍ کې د نسبي او تر ډېره بریده د افغان سولې په هکله د مثبت ذهنیت او اجماع رامنځ ته کېدل، همکارۍ ته د پاکستان مجبورول او ترغیبول او له جګړې سولې ته د افغانستان د قضیې مایلول.

له شک پرته چې د دوحې مذاکراتو احتمالي توافق لا د امریکا او طالبانو تر منځ د پرمختګ لومړي پلونه دي، چې یو په بل پسې به عملي کېږي چې د افغان جګړې د بهرني اړخ مرفوع کول بلل کېدای شي. بل او تر هغو ډېر مهم اړخ یې چې سوچه افغاني اړخ به وي، د دې مزل تر ټولو حساس او مهم پړاو دی. دا پړاو یوازې یو اړخ مخالف لري (ارګ). دغه مخالفتونه د هرې ورځې په تېرېدو د ممکن پرمختګ رامنځ ته کېدو سره هممهاله تخریبي او ورانوونکې بڼه خپلوي او د ارګ «نیم بنده مشروع ټیم» له هغو حلقاتو سره یو ځای چې په کور دننه او بهر، په ځانګړې توګه امریکا کې له طالبانو سره د جوړجاړي ضد مفکورې لري، یو ځای د هغه مسیر ایجادولو هڅې کوي چې دغه پروسه سبوتاژ کړي.

د بین الافغاني ناستو او بیا ورپسې رسمي او جدي مذاکراتو لپاره د کابل مېشتو او د داخلي سیاست مهمو څېرو او حکومت تر منځ د نظر یووالي او پر یو واحد ټیم توافق له طالبانو سره د بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې د احتمالي رامنځ ته کېدونکي توافق دوه برابره مهم دی. درې ځله د بیجېنګ بین الافغاني ناستې نېټه د همدې نه هوکړې له امله وځنډېده او بالاخره دا دي تر اوسه لغوه شوې ده. که دا ټیم نه جوړېږي، د نظام په استازیتوب د بشپړ غړ او واحدې اجنډا ښکارنه نه کوي او که ارګ یو څه او سیاسیون بل څه وایي، لکه دا تر اوسه حالت، کومه مثبته نتیجه به د کور د ننه پلاوي د ایجاد په برخه کې تر لاسه نشي. تازه ولسمشر غني مونیخ کې یو فورم ته خبرو کې د امرالله صالح قول تایید کړ، امرالله صالح طالبانو ته ښه اصطلاح کاروي «Trojan Horse» یا د ټروجان اس چې یو کمپیوټري وایرس دی چې په یوه مثبته بڼه ځان ښیي او د ویروس په بڼه راڅرګندیږي. بیا ورپسې وایي، طالبان که په هلمند کې د ده په مقابل کې ټاکنو ته درېږي، څوک به سپې هم پرې ونه نیسي. بیا ورپسې ادعا کوي چې طالبان په خپلو کې سره وایي، غربیان مو وغولول اوس به دولت هم وغولوو...

دا خبرې په داسې یو حساس وخت کې چې میلیونونه افغانان سولې او ارامۍ ته په بې صبرۍ سره انتظار باسي، پورتنې پرمختګونه شوي او فضا د سولې پر محور څرخي؛ له تخریب او ورانکارۍ پرته بله څه مانا لري؟ که ښاغلی غني پر طالبانو شک لري، ولې یې د مذاکراتو پر مېز نه ازمايي؟ که له طالبانو سره لږ تر لږه د خبرو اراده هم لري، نو ولې کابل په دا یو کال کې د سیاسیونو تر منځ د یوې دوه- درې ورځنۍ ناستې شاهد نه دی؟ که ښاغلی غني او ټیم یې د واک او یوې بلې پنځه کلنې دورې پرته پر بل څه فکر نه کوي، نو هر ځل د هر پرمختګ پر وړاندې ولې سنګر نیسي او پلمې تراشي؟

د «ارګ یا مرګ» شعارونو دا هېواد دا څلوېښت کاله په باروتو او وینو ولاړه او بیا بیا د واک پر سر جګړې ته زمینه سازي به دا ځل یوازې یو لوري (افغان ولس) ته تر ټولو او تر بل هر وخت ګرانه تمامه شي. په دې جنګ کې نه د غني او نه هم د هغه د ټیم د مطلق اکثریت غړي زیان ویني. دوه پاسپورټونه، یو جوړ کالي او یو بکس؛ دا هغه څه دي چې ښایي دوی یې په څو دقیقو کې تر هوایي ډګره له ځانه سره یوسي. که پاتې کېږي، نو دا ملت او د دې جغرافیې لاینحله جګړه به وي.

ښه به وي چې ټول اړخونه قربانۍ ته چمتو او یوازې له جګړې د وتلي افغانستان رامنځ ته کولو لپاره د یو زعیم، رهبر او خواخوږي په توګه وګوري. دا لیدلوری به یې هم د تاریخ او هم د هېواد او ولس پر وړاندې اتل کړي. خو که داسې یې ونه کړل او دا طلایي چانس هم له لاسه ووت، بیا به د هر ډول ناخوالې پړه د همدې حاکم ټیم پر غاړه وي.

بالاخره باید دغه پروسه پیل شوې وای. وخته ده که ناوخته، مهمه دا ده چې پیل شوې او باید په پوره دقت او له سولې سره د سولې کولو په روحیه باید پر مخ یوړل شي. د خبرو په جریان کې افغانان او ټوله نړۍ د هرې خبرې جاج اخیستلی او ښه او بد لوري او نیتونه جلا کولی شي. له طالبانو سره مخامخ خبرې د رسنیو له لارې ټول افغانستان او نړۍ اوربدلی او ارزولی شي. دا سناریو به بایلونکې نه، بلکې ټول ګټونکي کړي. خنډ جوړول بې ګټې دي.

## دانش: ګاونډي هېوادونه دې پر افغان حکومت له کډوالو د سیاسي فشار په توګه کار نه اخلي

د ولسمشرۍ مانۍ دویم مرستیال سرور دانش په اسلام اباد کې د افغان کډوالو په تړاو نړیوال کنفرانس ته ویلي، ګاونډي هېوادونه باید پر افغان حکومت له کډوالو د سیاسي فشار په توګه ګټه وانه خلي او بشري حقونه باید تر پښو لاندې نه شي.

هغه ویلي: «افغان کډوال باید د سیاسي فشار په توګه ونه کارول شي چې د دوی بشري حقونه تر پښو لاندې شي، بېرته راستنېدنه باید د دوی په خوښه وي، نه په زور او په ګروپي ډول او دویم دا چې دوی باید د یو مهالوېش په اساس بېرته راستانه شي.»

دانش دغه راز ویلي چې افغان کډوال د چا د اوږو بار نه وو، پخپله یې کار کړی او خپلې اړتیاوې یې پوره کړې دي. د نوموړي په خبره، په افغان کډوالو کې ډېری یې د پوهې، کسب و کار او پانګې خاوندان دي او دوی ته باید اجازه ورکړل شي چې خپل دا هر څه په قانوني ډول خپل هېواد ته انتقال کړي.



نوموړي خپل هېواد ته د افغان کډوالو د بېرته راستنېدو په برخه کې د نړیوالې ټولنې له مرستې مننه کړې، خو ویلي یې دي چې دا په هېڅ ډول کافي نه دي او باید نړیواله ټولنه خپله ونډه په ځانګړي ډول راستنو شویو ګډوالو ته د کارموندنې په برخه کې پیاوړې او پراخ کړي.

په ورته وخت کې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان هم بیا دغه کنفرانس ته په خپله وینا کې ویلي، چې افغان کډوالو ته یې هر ډول حقونه ورکړي دي. د نوموړي په خبره، تر دې دمه نږدې ۱،۴ میلیونه افغان کډوال په دغه هېواد کې راجستر شوي دي.

عمران خان د سرور دانش خبرو ته په اشارې ویلي چې په پاکستان کې ټول افغان کډوال به په جبري ډول نه، بلکې د مهالوېش له مخې بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.

په اسلام‌اباد کې په دغه دوه ورځني نړیوال کنفرانس کې چې ټاکل شوې نن به هم دوام ولري، د ملګرو ملتونو د استازولۍ سربېره د ۲۰ هېوادونو استازو هم ګډون کړی دی.

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش دغه کنفرانس ته په خپله وینا کې ویلي، ملګرو ملتونو هڅه کړې چې افغانان د پاکستان په ټولنه کې مدغم کړي.

په ورته وخت کې ځینې کورنۍ چې له پاکستانه هېواد ته راستنې شوې، وایي چې په ناوړه شرایطو کې ژوند کوي. د کار او کور نشتوالی او د ژوند لومړنیو اسانتیاوو ته نه لاسرسی، هغه ستونزې دي چې دغه راستنې شوې کورنۍ یې په اړه خبرې کوي.

# د پخواني شوروي اتحاد ځواکونه چا له افغانستانه وشړل؟

لیکنه: ډاکټر نېک محمد ویال

اوسنی روسیه او پخوانی شوروي د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال سره متحد هېوادونه وو. د دویمې نړیوالې جګړې په پای ته رسېدو سره دا دواړه هېوادونه بریالي راووتل؛ روس ټپي او ستر مالي او ځاني زیانونه یې لېدلي وو، خو امریکا په دویمې نړیوالې جګړې کې د بریا په سالم وجود له یادې جګړې را بهر شوه.
شوروي او امریکا د خپلو بهرنیو سیاستونو مخالف لیدلوري او موخې درلودې. امریکا د لیبرال او شوري د کمونیزم په ایډیالوژیو سره له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، پر نړۍ د نفوذ هڅې کولې. د لیبرال او کمونیزم ایډیالوژیو تر منځ ټکر دې سبب شو، چې د امریکا متحده ایالت او شوروي د دویمې نړیوالې جګړې اتحاد مات او د سړې جګړې په نوم یوې نااعلان شوې جګړې ته سره دننه شي.
افغانستان ته د شوري ځواکونو راتګ او د مجاهدینو په نوم افغانستان او په سیمه کې وسله وال بغاوت د همدې سړې جګړې زیږنده و. شوروي د غوایي اوومې کودتا لارې برابرې کړې، خو اصلي موخه یې چې افغانستان ته د خپلو پوځیانو راتګ و، تر هغې پټه وساتله تر کومه یې چې خپل مخالف ملګري نور محمد تره کی او حفیظ الله امین وژلي نه وو. شوروي په ښکاره او د اشارې په ډول د غوایي اوومې کودتا د ملاتړ په پار له نور محمد تره کي او حفیظ الله امین غوښتي چې افغانستان ته به ځواکونه ورولېږي، خو دوی مخالفت کړی او په پایله کې دواړو د شوروي د خوښو خلاف دریځ کې ژوند له لاس ورکړ.
سیمه او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د امریکا د نفوذ د مخنیوي او کمونیستې ایډیالوژۍ د ترویج په پار شوري ببرک کارمل واک ته ورساوه او د مرغومي په شپږمه یې خپل پوځیان چې شمېر یې ۱۲۰ زرو ته رسېدو، افغانستان ته را دننه کړل.
امریکا چې له کمونیزم سره په مستقیم ټکر یې لیبرال لید درلود، په افغانستان کې د شوروي شتون او نفوذ د خپل زبرځواک پر وړاندې ستر خنډ او مانع شمېرله.
همدا وو چې شوروي ببرک کارمل او حکومت او امریکا د مجاهد په نوم وسله والې ډلې په لاس کې واخېستې او پر افغان خاوره یې د شوروي یرغل پر وړاندې د جهاد او یا د پاکستان او اشرار سره د مبارزې په نوم جګړې پیل کړې.
هر هغه کس چې یو څه له سیاست او نړیوالو اړیکو مطالعې سره اشنا وي، نو دا به ښه ورته مالومه وي چې نیابتي جګړه څه وي، څوک یې چېرته او په کومو نومونو کوي؟
د افغانستان جګړه (۱۳۵۸ تر ۱۳۷۱) چې د جهاد او پاکستان یا اشرار پر وړاندې جګړې نومونه ورکړل شوي وو، په حقیقت کې د سړې جګړې په څپو کې د شوروي او امریکا نیابتي جګړه وه.
شوروي د خپل جوړ کړي حکومت بشپړ مالي، پوځي، سیاسي او پوځي ملاتړ کولو، څو پرې خپل مخالفین له پښو وغورځوي. له بلې خوا امریکا د پاکستان، سعودي عربستان او نورو سره په همغږۍ د شوروي پر ضد د مجاهدینو په نوم ډلې چې جګړه یې جهاد وه، په لاس کې واخیستې.
د شوروي او امریکا د لس کلنې جګړې په ترځ کې، امریکا وکولای شوی چې شوروي له غیر مستقیمې لارې یا نیابتي جګړې په وسیله مات کړي او له افغانستانه یې په وتلو اړ کړي.
دا له افغانستانه د شوروي ځواکونو د وتلو او د شوروي د ماتې اصلي داستان دی، چې امریکا په سړه جګړه کې شوروي په ګونډو کړ او لوبه یې خپله کړه.
اوس که چېرې د افغانستان مسئله په رښتیني ډول څېړو او د امریکا د نوم له یادولو پرته یوازې دا وایو چې مجاهدینو شوروي ایستلو ته اړ کړ؛ نو په افغاني غیرت او غرور سره سمه خبره ده، خو په رښتیني سیاست کې بیا په تاریخ سترګې پټول او یو ډول مبالغه کېدای شي.
په افغانستان کې له شوروي ځواکونو سره د امریکا او سیمې هېوادونو له مجاهدینو وړاندې په خپله د افغانستان د وخت حکومت دې ته اړ کړی و، چې شوروي په وتلو اړ کړي. د ډاکټر نجیب الله حکومت سیاسي پر له پسې فشارونه وو چې له شوروي یې غوښتل، څو د افغانستان مسایل افغانانو ته پرېږدي او په خپله له افغانستانه بهر شي.
په دې اړه د ډاکټر نجیب الله د وخت یو پوځي جنرال لیکي، (په ۱۳٦۷ لمریز کال کې د دلو د میاشتې په ۲٦مه د کابل په لرغوني بالاحصار کې شانداره غونډه چه ما یې هم د ګډون ویاړ درلود جوړه شوه.
د غونډې مشرتوب ډاکټر نجیب الله د وخت رییس جمهور کاوه. په غونډه کې یې ډېره اوږده او وطنپرستانه وینا وکړه چې تاریخي لحاظ ډېر اهمیت لري. د ګډونکوونکو له خوا بې حده استقبال کیده.
ګډون کوونکو ته یې وویل:
ما د ژنیو له پرېکړو سره سم د اتحاد جماهر شوروي پوځونه له ګران او آزاد افغانستان څخه وویستل او سر له نن ورځې به یو پردی عسکر هم دلته نه وي.
په خپله با ارزښته وینا کې وویل چې د دلوې په ۲٦مه ورځ به د افغانستان په تاریخ کې د ملي نجات ورځ او عمومي رخصتي وي.
هغه په خپله وینا کې پر وسله وال پوځ او هیوادوالو غږ وکړ چې د ګران هیواد ساتنه او دفاع ستاسو سپېڅلې دنده ده.
په جهادي تنظیمونو یې هم غږ وکړ چې بیګانه پوځونه نور په افغانستان کې نشته، د جګړې بهانه هم ختمه شوې ده، راځئ د ملي روغې جوړې د سیاست په تغر د افغان او ورونړ په خیر کېنو او خپل هیواد کې سوله راولو. هیواد له ورانۍ څخه وساتو.»
متأسفانه پاکستان او نورو بهرنیو هیوادونو جهادي تنظیمونو ته اجازه ورنه کړه چې خپل وطن له راتلونکې جګړې او ورانۍ څخه وژغوري.
په خپله ډاکتر نجیب الله هم په یوه ناستې کې ویلي دي چې د جینوا د تړون پر اساس مونږ وو چې شورویان مو له افغانستانه اېستلو ته اړ کړل، د نهو میاشتو د ننه دوی له افغانستانه ووتل.
نو په پایله کې ویلی شو چې شوروي د امریکا د سړې جګړې په پایله کې له افغانستانه بهر شو، خو د امریکا په ملاتړ د مجاهدینو پوځي او د ډاکټر نجیب الله سیاسي فشارونه یې لاملونه وو.

# د موازي حکومت پر دریځ ټینګار؛

## عبدالله عبدالله: غیر شفافې پایلې نه منم او د خپل ټیم له پرېکړو ملاتړ کوم



د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان په درشل کې نوې نانډرۍ او کشمکشونه پیل شوي دي. ورمه ورځ ځینو سیاسي ګوندونو او د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې د موازي حکومت د جوړولو خبرداری ورکړ. دوی وویل چې کـه یې د ټاکنو خپلواک کمېسیون غوښتنې ونه مني او د تقلبي رایو پر بنسټ نوی حکومت رامنځ ته کېږي، نو دوی تـه د منلو وړ نـه دی. عبدالله عبدالله هم د یادو کسانو دغه دریځ تایید کړی دی او پـه خبره یې، دی هم د تقلبي رایو پر بنسټ د رامنځ تـه شوي حکومت منونکـی نـه دی.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د پرېکړې او لوایحو پر بنسټ یې په ځینو مرکزونو او محلونو کې د رایو ځانګړی تفتیش پیل کړی دی او په پای ته رسېدو دی. دغه کمېسیون وایي چې ډېر ژر به خپله پرېکړه اعلان کړي. بلخوا د ټاکنیزو ټیمونو تر منځ پـه دې اړه تازه نانډرۍ رامنځ ته شوې دي.
څو ورځې وړاندې د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم د مشرتابه غړي جنرال دوستم وویل چې کـه د ټاکنو کمېسیون د تقلبي رایو پر بنسټ کوم څوک ګټونکی اعلانوي، نو دوی تـه بـه د منلو وړ نـه وي. ده خبرداری ورکړی و چې موازي حکومت به اعلانوي. لـه دې سره جوخت د یاد ټاکنیز ټیم بـل غړي کریم خلیلي هـم د جنرال دوستم د خبرو ملاتړ کړی او وایي، د موازي حکومت اعلانولو ته تیار دي.
پـه دې پسې د جمعیت ګوند هـم د یوې خبرپاڼې پـه خپرولو سره وویل چې دوی د عبدالله عبدالله پـه مشرۍ د ثبات او همپالنې حکومت اعلانوي، نو ښه به وي چې ټاکنیز کمېسیونونه خپلې چارې په پوره شفافیت مخ تـه یوسي. د جمعیت اسلامي ګونـد د ټاکنو خپلواک کمېسیون لـه یوه ځانګړي نوماند په ملاتړ تورن کړی او وایي، دغه کمېسیون خپله خپلواکي نه ده ساتلې.
د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله بیا تېره ورځ د وزیرانو شورا په غونډه کې د یادو کسانو پر دریځ ټینګار وکړ. د ده په خبره، د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشرتابه چې کومه پرېکړه کړې ده، دی یې هم منـي او ملاتـړ یې کـوي. د عبدالله په خبره، ده تـه هـم د تقلبي رایو پر بنسټ رامنځ ته شوی حکومت د منلو وړ نـه دی، نو پر وړاندې به یې غبرګون وښیي. عبدالله ویلي: «د ثبات او همپالنې ټیم خپل دریځ اعلان کړی دی. دا دریځ ډېر واضح دی، یوازې مشروع او شفافې پایلې موږ ته د منلو دي. هېڅ هغه پایلې نه منو چې په هغه کې مشروعیت او شفافیت نـه وي، د ټیم مشرانو هـم خپل دریځ اعلان کړی دی او زما موقف هم همدا دی.»
نوموړي د سولې پـه برخـه کې پر وروستیو پرمختګونو هـم خبرې کړې دي. هغـه ویلي چـې د افغانستان ټـول خلک د تاوتریخوالي لـه کمېدو او دغـه راز د سولې پـه برخـه کې د رامنځ تـه شوو پرمختګونو هرکلی کوي او هـر افغان هیلـه لـري چـې دلتـه روانـه جګړه لـه سوله ییزو لارو حل شي. هغـه زیاته کړې: «د افغانستان ټول خلک د دې پرمختګونو هرکلی کوي. مخکې مو هم موقف همدا و، هـر ګام چې د جګړې پای تـه رسېدو لپاره پورتـه کېږي، هـر ګام چـې موږ سولې تـه نږدې کوي، یـو مثبت ګام دی موږ یې هرکلی کـوو.»
اجرایه رییس همدا راز پـه هوایـي بریدونـو کې د ملکـي وګړو پر تلفاتو او مرګ ژوبله هم اندېښنـه ښودلې ده او پـر امنیتي مسوولینو یـې غږ کـړی چـې د ملکـي وګړو ژوند تـه جـدي پاملرنـه وکړي. هغـه ویلي چې د ملکي وګړو د خوندیتـوب لپاره باید جدي ګامونـه اوچت شي او پـه دې برخـه کې بې پروایـي چـا تـه د منلو نـه ده.
د ټاکنـو په اړه نانډرۍ داسې مهال دي چې د ټاکنـو خپلـواک کمېسیون بیـا پـه نږدې ورځـو کـې د پایلـو د اعـلان خبره کـوي. د ټاکنـو خپلـواک کمېسیون وایـي چـې د ځانګړي تفتیش پروسـه ختمـه شـوې ده او پـه دریـو یا څلـورو ورځو کې به د ولسـمشریزو ټاکنـو پایلـې هـم اعـلان کـړي.

# روحاني: تهران به هېڅکله هم له واشنګټن سره له کمزورې دریځ خبرې ونه کړي



د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، تهران به هېڅکله له متحده ایالتونو سره تر فشار لاندې او له کمزورې دریځ خبرې ونه کړي.
هغه ویلي: «د امریکا ټول هدف دا دی چې په حد اکثر فشار سره په داسې حال کې چې خلک له سختیو سره مخ دي، دولت (د ایران دولت) په کمزورې حالت کې د مذاکرې مېز ته کېني. دا هېڅ ممکنه نه ده. هېڅکله له کمزورې حالته خبرو ته نه ورسره کېنو.»
روحاني دا هم ویلي چې امریکا په تېرو کلونو کې هم د خبرو وړاندیز کړی او اوس یې هم کوي، خو د ده په خبره، دغه هېواد باید عادلانه شرایطو ته ور وګرځي، څو خبرې ممکنې شي.
نوموړي زیاته کړې، ایران به هغه وخت له امریکا سره خبرې وکړي چې دغه هېواد د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ ز کال کې له ایران سره د نړۍ د پیاوړو هېوادونو له اټومي تړونه ووت او پر دغه هېواد یې یوځل بیا سخت بندیزونه ولګول. د یادونې ده چې له ایران سره د نړۍ پیاوړو هېوادونو؛ امریکا، برېټانیا، فرانسې، جرمني، روسیې، چین او اروپایي ټولنې په ۲۰۱۵ ز کال کې اټومي تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې ایران د بندیزونو د لرې کېدو او کمېدو په بدل کې د خپلو اټومي فعالیتونو د محدودولو ژمنه ورکړه. ایران وروسته له هغې چې امریکا له دغه تړون ووته، یاد تړون ته ژمنتیا پرېښوده او بېرته یې د یورانیمو غني کولو پروګرام چټک کړ. د یورانیمو غني کول د اټومي وسلو او بمونو په جوړولو کې کارول کېږي. د امریکا ولسمشر ډونالد ټرمپ ویلي چې د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون مادې په کافي اندازه سختې نه وې، څو د ایران د لرې واټن ویشتونکو راکټونو او اټومي وسلو د جوړېدو او پراختیا مخه ونیسي او تهران اړ کړي چې په منځني ختیځ کې د خپلو نیابتي ډلو له تمویله لاس واخلي. امریکا بیا پر ایران د فشارونو پر دوام ټینګار کوي او وایي چې دغو فشارونو تر اوسه ښې پایلې ورکړې دي. په ورته وخت کې د مونیخ په امنیتي کنفرانس کې هم روانه اونۍ د ایران او امریکا د کړکېچ پر سر تاوده بحثونه وشول.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو وویل چې امریکا په جدیت هڅه کړې چې په منځني ختیځ یا اروپا کې د ایران د تروریستي اقداماتو د پارونې لپاره دا هېواد له ډیپلوماتیکو سرچینو او مالي وړتیاوو محروم کړي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### هغه پنځه عوامل چې زرین قانون تتوي




هاریت روبن پر واک دوه کتابونه لیکلي دي، د نرگسي یا پر ځان مېینو مشرانو په اړه وایي:((دوی تاسو گنگسوي، سرخوږی درته جوړوي ... . منته درنه هېڅکله نه کوي او له خلکو د کاغذي دسمال په شان گټه اخلي.)) د رهبرۍ متخصص او اروایي څېړونکی ابراهم زالینیک وایي چې زیاتره رهبران د حق درلودو یو ډول احساس پیدا کوي، دا رهبران داسې فکر کوي«چې دی او د ده اداره گنې یو دي، نو په دې خاطر چې هر وخت، هر څه وغواړي ترلاسه کولای یې شي.»

د یو ایس ای ټوډې بروس هوروز بیا پر داسې رهبرانو یو طنز کوي، د امریکا په کاروباري ادارو کې چې څه روان دي، دی یې «د کیشپانو د پاچا کیسه » بولي. د ډاکټر سیوس په همدې نوم کتاب کې یوه کیسه ده، په دې کې د کیشپانو یو پاچا وي، هر څه چېویني، خپل یې بولي. بیا نورو کیشپانو ته وایي چې تاسو پر یو بل سپاره شئ او یو منار جوړ کړئ؛ خو په پای کې ټول را ولوېږي او خراب شي.

څوک چې واک ته ډېر حساس وي، هغوی عموما په لاندې ډول یوه دوره تجربه کوي:

**• واک ترلاسه کول**

واک لکه پیسې او شتمني طبیعي شی دی او ښه او بد دواړه ډوله کارېدای شي؛ خو دا خصوصا د هغو خلکو لپاره خطرناک کېدای شي چې سمدستي بریا غواړي او واک یې تر خپل وخت مخکې ترلاسه کړی وي.

**• له واکه ناوړه گټه اخیستل**

د واک یو خطر دا دی چې څوک پرې بې باوره وي، نو لومړنی اندېښنه یې د همدې واک ساتنه وي. دوی پر دې نه پوهېږي چې دوی ته که په دولت، وزارت، اړیکو یا کاروبار کې کوم واک ورکول کېږي، نو یوازې د خدمت لپاره ورکول کېږي. څوک چې په هره بیه خپل واک ساتل غواړي، زیاتره وخت د اخلاقي چلن پر معیارونو هم معامله کوي؛ خو خپل واک ساتي.

**• واک بایلل**

څوک چې له واکه ناوړه گټه واخلي، بې واکه کېږي. له واکه ناوړه گټه اخیستونکي مشران، لکه دیکتاتوران په شنه زور لگیا وي.

له واکه ناوړه گټه اخیستونکي مسایلو ته داسې گوري لکه «د واک ۴۸ اصول » کتاب لیکوال رابرتن چې ورته گوري. هغه د داسې یوه چلن سپارښتنه کوي چې د زرین قانون په برعکس لوري روان دی. دی لیکي:((خلک گنگس او په تیاره کې وساتئ او د خپلو چارو تر شا موخه ورته مه وایئ. که څوک پر دې پوه نه شي چې تاسو څه کوئ، نو دفاع ته هم ځان نه شي چمتو کولای. دوی ته ناسمه لاره ښیئ او محدود یې ساتئ او کله چې دوی ستاسو پر فکر او موخه پوه شي، نو وخت به تېر وي... . حیثیت ستاسو د قدرت ستنه ده. یوازې د حثییت له لارې خلک وېرولای او گټه کولای شئ. که دا درنه ولاړ، نو زیانمن کېږئ او له هرې خوا به درباندې برېدونه کېږي. نو خپل حیثیت داسې کړئ چې برید پرې ونه شي او مات نه شي.)) ۱۱

گرین چې د «حیثیت» په نوم د انسان کوم انځور ښیي، دا هسې سیوری دی. د انسان اصلیت د هغه کرکټر دی. که تاسو اوږدمهاله بریا او اخلاقي ژوند غواړئ، نو د حیثیت جوړولو ته اندېښنه مه کوئ. د دې پر ځای د خپل کرکټر پر قوي کولو او نه ماتېدلو کار وکړئ.

واک ژور سیند ته ورته دی. تر څو چې سم او ارام روان وي، نو ښایسته وي؛ خو که بې واکه شو، نو هر څه ورانوي. خلک واک څنگه ساتي؟ په دې اړه د امریکا د پخواني ولسمشر هنري ترومن خبره واوروئ، نوموړی وایي:((که څوک په واک کې یو موقف په دې خاطر ومني چې لنډمهالی دی، نو دا کس به سم وي؛ خو که ووایي چې دا موقف د واک له امله دی، نو دا ورانی کولای شي.)) څوک که پوه شوي وي چې د خپل واک ساتلو لپاره ډېره زیاته خواري کوي، نو ښه به دا وي چې ځان له اخلاقي پلوه وارزوي. واک بد زړه راښکونکی وي.

که څوک په واک کې یو موقف په دې خاطر ومني چې لنډمهالی دی، نو دا کس به سم وي؛ خو که ووایي چې دا موقف د واک له امله دی، نو دا ورانی کولای شي .

هنري ترومن

**٤. غرور**

تاسو ته ښایي غرور داسې بالقوه دام ښکاره نه شي چې اخلاق به له منځه وړي او د زرین قانون پر ضد به کار کوي. څکه خلک دې ته نه هڅېږي چې په خپل کار کې غرور وکړي؟ مور د خپل بچي ښه چلن نه ستایو او نه ورته وایو چې څومره ویاړ پرې کوو؟ زده کوونکو ته دا نه ویل کېږي چې تاسو په خپلو ښوونځیو او پوهنتونو کې ویاړونه ترلاسه کړئ؟

انسان چې ځان وپېژني او په خپل ارزښت وویاړي، دا ښه خبره ده. همداسې پر ځان د یوه کار کولو باور هم دی. خو ځان ته په ډېر لوړ ارزښت قایلېدل او افراط پکې کول بیا زیان رسوي. د شخصیت جوړونې په کتابونو کې د غرور او د دې د پایلو اړوند ډېر خبرداري ورکړل شوي دي. تاسو د وینا په اړه لاندې ویناوې وگورئ چې د متلونو له کتابونو راټولې شوې دي.

**دوام لري...**

# سیمون دو بووار

◀ شفیق امیرزی



سیمون دو بووار له نن څه باندې سل کاله مخکې په فرانسه کې دې نړۍ ته راغلې ده. هغه د شلمې پېړۍ تر ټولو مشهوره، روشنفکره او پیاوړې مېرمن وه. هغې نه یوازې په ادبیاتو، بلکې په فلسفه، ټولنیزو مبارزو او د ښځو د حقونو په تامین کې ځانگړی نوم درلود. دو بووار داسې مهال په خپله ټولنه او فرانسه کې فعالیت او مبارزه پیل کړه، چې د ښځو لپاره ژوند سخت و. دا په اروپا او فرانسه کې لومړنۍ ښځه گڼل کېږي چې د ښځو د زده کړو لپاره یې مبارزې وکړې او دغه راز یې خپلې زده کړې تر هغې کچې پورې ورسولې چې هغه مهال به نورو نارینه وو رسولې. نوموړې نه غوښتل چې په دې توگه ځان له نارینه وو سره برابر کړي، په دې مانا چې ځان ته یې نارینه هویت نه غوښت او نه یې هم غوښتل نارینه تر ځان ټیټ وبولي، خو هدف یې دا و چې ټول انسانان باید تر خپلې وسې ځان ورسوي. تر خپلې وسې زده کړې وکړي او هر څوک باید ځان ته یو مشخص او ځانگړی شخصیت ولري. له همدې وروسته د هغه نیمه پېړۍ فعالیتونه د دې لپاره وو چې ښځې باید په ټولنه کې ځانگړی هویت ولري، مستقلې وي او د زور زیاتي پر مهال له خپلو حقوقو دفاع وکړی شي.

سیمون دو بووار په ۱۹۰۸ز کال کې په یوه فرهنگپاله او متمدنه کورنۍ کې دې نړۍ ته راغله. کورنۍ یې بافرهنگه وه، خو سختگیره هم وه. له اته کلنۍ یې له کتاب او کتابلوستنې سره بې دریغه مینه وه. ادبیاتو له دې سره مرسته وکړه چې د ډال په څېر د هغه مهال ستونزې وزغمي او مقابله ورسره وکړي. په ټولنه کې شته وضعیت او ستونزې د دې سبب کېدې چې د انسان ژوند گډوډ کړي، خو د بووار لپاره کتابونه د مبارزې ښه سنگرونه وو.

له ۱۹۲۵ز کال وروسته یې په پوهنتون کې زده کړې پیل کړې. په لومړي سر کې یې ریاضي پیل کړه، خو وروسته یې د فلسفې لوست ته مخه کړه. دا چې ډېر زیار یې یوست، مطالعه یې کوله او ځان یې رساوه، نو له دې برخې په لومړۍ درجه فارغه شوه. له فارغېدو سره سم یې په ښوونځي کې معلمي پیل کړه.

په ۱۹۲۹ز کال کې په درسي ټولگیو او ادبي محفلونو کې له ژان پل سارتر سره اشنا شوه او د عمر تر پایه یې له یو بل سره نږدې علمي او ادبي اړیکې لرلې. دوی په گډه په ادبي نړۍ کې فعالیتونه تر سره کول او په ټولنیزه برخه کې هم خورا فعال وو.

په ۱۹۳۱ز کال کې سارتر هغه ته د واده وړاندیز وکړ، خو سیمون په دې باور وه چې واده کول د بورژوازي حکومتونو غیر موجه دخالت دی. نوموړې ویل، حکومتونه په دې توگه غواړي د خلکو په شخصي ژوند کې دخالت وکړي، دوی له لویو کارونو را وگرځوي او همدا وو چې د نوموړې غوښتنه یې رد کړه.

سیمون دو بووار د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال هم په فرانسه کې وه. هغه مهال چې پاریس د نازیانو پوځونو اشغال کړ، سیمون په سوربن پوهنتون کې استادي کوله. خو په ۱۹۴۳ز کال کې د نازیانو له فرامینو او قوانینو د دوبووار ازادۍ او ښکاره نافرمانۍ دې ته زمینه برابره کړه، چې هغه له دندې لرې کړل شي. هغه چې کله له دندې لرې شوه، نو لیکوالۍ او ناول لیکلو ته یې مخه کړه. لومړنی ناول یې میهمان نومېده. همدې له کاره لرې کولو نوموړې ته د دې ناول د لیکلو فرصت برابر کړ. نوموړې په همدې توگه نوی ژوند او کار پیل کړ او په دې توگه یې خپل پرمختگ او فعالیتونو ته ادامه ورکوله.

په ۱۹۴۵ز کال کې یې د جگړې تر پای ته رسېدو لږ وروسته، (د نورو وینې) ناول خپور کړ. دا کتاب تر ډېره سیاسي اثر بلل کېده. په دې ناول کې اصلي هدف د زور او زیاتي پر وړاندې مبارزه او د تېري دفع کول وو. په دې ناول کې د جگړې د وخت کشمکشونه، بحرانونه، ټولنیز کړکېچونه او نور مسایل ځای پر ځای شوي وو. همدا راز په ناول کې د افرادو او سیاسي اړیکو یا حاکم فکري چاپېریال اغېز هم راغلی و او د داستان په ژبه بحثونه وربانديې شوي وو.

تر جگړې وروسته کلونو کې په فرانسه کې د کتاب، لیکوالۍ او انتشاراتو بازار گرم شو. نشریې، مجلې او اخبارونه چاپ شول. سارتر هم د یوې نشریې په جوړولو لاس پورې کړ. سیمون له نوموړي سره د همدې نشریې په چاپ او نشر کې همکاري پیل کړه. دوی په دې نشریه کې تر ټولو نوي ادبي او فلسفي بحثونه خپرول. د سیمون دوبووار لومړنۍ ادبي مقالې او فلسفي بحثونه په همدې نشریه کې خپاره شول. دې مسئلې نه یوازې د نشریې مینه وال ډېر کړي وو، بلکې د دې سبب هم شوه چې سیمون لا ډېر څه ولیکي او لا ډېره مطالعه وکړي. سیمون په دې وخت کې له مشهورو فیلسوفانو لکه سارتر، مرلوپونتي او آلبرکامو سره ناسته ولاړه لرله. دوی د هغه وخت تکړه لیکوالان وو، سارتر د نوبل جایزه وگټله، کامو د نوبل جایزې ته نوماند شو، خو د هغه له اخیستلو یې ډډه وکړه.

سیمون دو بووار وایي، انسان په هر ډول شرایطو کې له خپلو حقونو د دفاع وړتیا لري. د نوموړې په خبره، انسان په هر حال کې کولی شي خپله ازادي تر لاسه او وساتي. هغه وایي، ازادي یو واک او اختیار دی، خو د دغه واک او اختیار د تر لاسه کولو لپاره باید بیه پرې کړئ. هغه پخپله د دې لیدلوري ښه مثال وه. ټول عمر یې په خپلواکه توگه ژوند وکړ، باشهامته او پیاوړې وه. هغه ثابته کړه چې تل د مسوولیتونو اخیستلو لپاره تیاره ده او هغه څه چې انتخابوي، د ترلاسه کولو لپاره یې مبارزه کوي.

په ۱۹۴٦ز کال کې یې د (ټول مړه کېږي) ناول خپور کړ. دې اثر د نوموړې ادبي باور اوهویت نور هم پیاوړی کړ. دغه ناول د بشري ژوند عام مسایل رانغاړل. ډېر پېچلي انساني مسایل یې مطرح کړي وو. د انسانانو د ژوند پر نیمگړتیاوو او پیاوړتیاوو یې په دې اثر کې خبرې کړې دي. همدا راز یې ډېرو ستونزو او مسایلو ته حللارې هم پیدا کړې دي چې له همدې امله د نړۍ په گوټ گوټ کې ډېر مینه وال لري.

په ۱۹۴۹ز کال کې یې (دویم جنس) نومی کتاب خپور کړ. سیمون په لومړي سر کې د ټولو انسانانو لپاره لیکل کول او د اصالت پالنې مفکوره یې لرله، خو ناڅاپې په دې کتاب کې د ښځینه وو ملاتړې راڅرگنده شوه او فیمنیستي نظریات یې په اثارو کې راڅرگند شول. له همدې وروسته سیمون د فیمنیستي نظریاتو د ډگر په لومړۍ کرښه کې ولاړه وه. دغه کتاب ډېر جنجالونه او ناندرۍ را ولاړې کړې. له ښي او چپ لوري پر کتاب او لیکوالۍ د نیوکو برېدونه وو او نقدونه وربانديې وشول. خو له دې ټولو سره سره کتاب ډېر مینه وال او لوستونکي هم لرل. کتاب په ټولنه کې نفوذ وکړ او تر ننه پورې د فیمنیستي خوځښت د ملاتړو او سرلارو لپاره مهم اثر گڼل کېږي. سره له دې چې سیمون د فیمنیستي نظریاتو له امله تر نیوکو لاندې راغله، کتاب یې هم ولیکه، خو څه موده وروسته یې له دې خوځښت سره هم خپله فاصله ساتله.

په ۱۹۵۴ز کال کې د الجزایر جگړه ونښته. سیمون دو بووار د فرانسې د نورو روشنفکرانو تر څنگ، د دې جگړې ستره منتقده وه. نوموړې د جگړې جدي مخالفت کاوه او پر پای ته رسېدو یې ټینگار کاوه. په همدې کال کې د گنکورو معتبره جایزه د نوموړې (ماندرنیان) ناول ته ورکړل شوه. په دې کتاب کې یې د سیاسیونو او روشنفکرانو د ژوند ژور مسایل بیان کړي دي. هغه په دقیقه توگه د فرانسې د هغه وخت ټولنې ته کتلي دي، د دوی ذهني کشمکشونه یې رااخیستي دي، د دوی گډوډۍ او اخلاقي مسایل یې هم څېړلي دي.

په ۱۹۵۸ز کال کې یې د خاطراتو یوه مجموعه چاپ شوه. دا خاطرات څلور جلده وو. سیمون دوبووار د خپلو خاطراتو په لومړي چاپ کې د خپل ماشومتوب کیسه کوي. دا چې څنگه د خپلې کورنۍ په چاپېریال کې لویېده او له ژونده یې خوند اخیست. ژوند یې له ارامۍ او سوکالۍ ډک و، خو د فردیت او استقلال لپاره یې فعالیتونه او خیالونه لرل. همدا راز د کورنۍ دا وضعیت یې هم ښه انځور کړی چې څنگه یې د نوموړې د ځینو فکرونو پر ضد اقدام کاوه او غوښتل یې چې هغه ډېر مستقلانه چلند ونه کړي او د کورنۍ دود ته درناوی ولري. د خاطراتو په نورو ټوکونو کې یې بیا وایي چې څنگه یې فکر وده وکړه او وروسته خپاره شول. په دې اثارو کې د خپلو ټولنیزو او فکري تعهداتو په اړه بحثونه کوي. همدا راز د یوې لیکوالې په اړه د خپل موقعیت او مسوولیت یادونه هم کوي. له سارتر سره یې پر اړیکو غږېدلې ده. په څلورم ټوک کې یې بیا د ۱۹٦۰ز کلونو پر پېښو او کشمکشونو خبرې کړې دي.

سیمون دو بووار په ۱۹٦۰ز کال کې له یوه بهیر سره یو ځای شوه چې دوی له جمیله بوپاشا سره ولاړ وو. دا یوه ځوانه الجزایرۍ ښځه وه چې د ازادۍ او خپلواکۍ لپاره یې مبارزه کوله او وروسته په الجزایر کې د فرانسوي ځواکونو له لوري ونیول شوه. نوموړې شکنجه شوه او دې شکنجې سخت غبرگونونه وپارول چې وروسته د سترو خوځښتونه سبب شول.

په ۱۹٦۳ز کال کې یې مور مړه شوه. هغه یې د مور د مرگ تر اغېز لاندې وه. سخت یې زړه خپه و او پر رواني وضعیت یې ډېر ناوړه اغېز وکړ. د عمر په وروستیو کې یې مور سخته په تکلیف وه او ستونزې یې وگاللې. له همدې امله یې د (ارام مرگ) په نامه کتاب ولیکه. په ۱۹٦۷ز کال کې یې یوه داستاني مجموعه چاپ کړه. په هغه کې یې د ښځو د هغه مهال حالت ښودلی و. د هغو ښځو داستانونه وو چې له خپلو حقونو او هویت یې دفاع کوله. بیا یې له راسل نړیوالې محکمې ملاتړ وکړ. په دې محکمه کې په ویتنام کې د امریکا جنگي جنایتونه څېړل کېدل. په ۱۹۷۰ز کال کې یې د زړتوب کتاب خپور کړ. په دې کتاب کې د انسان عمر د وروستیو وختونو فلسفي علایق څرگند شوي دي.

په ۱۹۸۰ز کال کې سارتر ومړ او د هغه تر مړینې لږ وروسته دوبووار د (مخه ښې مراسم) کتاب خپور کړ. سیمون دو بووار له لسیزو مبارزو او مدني فعالیتونو وروسته د ۱۹۸٦ز کال د اپرېل په ۱۴مه په پاریس کې مړه شوه. تر مرگ وروسته په مون پارناس هدیره کې د سارتر څنگ ته خاورو ته وسپارل شوه. تر مرگ وروسته یې د خاطرو او مینه لیکونو څو مجموعې هم چاپ شوې. هغه لسگونه مقالې لیکلې دي، کتابونه یې چاپ شوي دي او لا یې هم دویم جنس نومی کتاب په نړۍ کې د بحثونو او ناندریو جوگه دی. نوموړې د ښځو د حقونو لپاره اوږدې مبارزې کړې دي او لا هم د فیمنیستي جریانونو او غورځنگونو لپاره سرلارې او الگو ده.

همیانۍ

# جذاب خلک د خبرو کولو دا (۱۰) مهارتونه لري

**ژباړه: امان الله «حنيفي»**

جذاب او زړه راښکونکي خلک ډېرې وخت ښه غوږنيوونکي دي او ډېر چانسونه په لاس ورځي. دوی ته داسې موکې ورکول کېږي چې ښايي نور خک هېڅکله دا چانسونه په لاس رانه وړي، دا ډول خلک ښايي د داسې کړنو له امله وبښل شي چې ښايي نور يې له امله اعدام شي.
موږ دلته د جذابوالي لس مهارتونه تاسې ته ښيو:
۱ـ خوندورې او خوښوونکې خبرې اترې هغه دي چې په هغه کې نه سيالي او نه هم ځان غوښتنه وي؛ بلکې د خبرو، نظرونو او احساساتو يوه ارامه تبادله پکې وي. ارامې خبرې وکړئ او مقابل لوري ته مو هم د خبرو کولو وخت ورکړئ. کله چې تاسې خبرې کوی او نور درته ښه غوږ وي، تاسې د ځان په اړه ښه احساس کوی، دا کړنه د بل په حق کې هم همداسې وګڼئ. کله چې يو څوک خبرې کوي او تاسې په بل څه مصروف وی، هغوی داسې ګڼې چې تاسې ورته ارزښت او درناوی نه لری. «لطفاً داسې مه کوئ.»
۲. پرته له دې چې د نورو په خبرو کې ور ولوېږئ، په دقت او بشپړه چوپتيا سره د هغوی خبرو ته غوږ ونيسئ، داسې چې د مخامخ کس له خبرو پرته هېڅ هم درته اړين نه دي. ښه اورېدونکی و اوسئ، څو مو د جذب کچه نوره هم لوړه شي. «ښه غوږ نيوونکی و اوسئ.»
۳. له مقابل لوري مو د هغه ټولنيز او علمي موقف ته په کتو د حال احوال پوښتنه وکړئ. د بېلګې په ډول، له هغوی وپوښتئ چې څه کار کوي؟ ژوند يې څنګه دی؟ په کاروبار کې خوشاله دي؟ او يا هم دېته ورته نورې. له پوښتنې کولو وروسته د هغوی خبرې په ښه دقت واورئ او داسې ښکاره کړئ چې د هغوی هره خبره تاسې ته ارزښت لري.
داسې نه چې مخامخ کس مو دهقان وي او تاسې ورنه د انجنيرۍ په برخه کې پوښتنې کوئ. ممکن ډېر مو داسې کسان ليدلي وي چې پر نورو د يو ډول ځان لوړ ګڼلو يا د ځان ډېر پوه ښکاره کولو لپاره د هغو مسايلو په اړه خبرې کوي، چې اصلاً يې مقابل لوری ورسره اشنايي نه لري. «دا بد عادت مو له منځه يوسئ.»
۴. د کېناستو پر مهال مو د بدن د برابرولو او کېناستو ښه، مقابل لوري ته ستاسې علاقه ښيي. کوښښ وکړئ چې د مقابل لوري خبرو ته په کتو مو د بدن ښه برابره کړئ. د بېلګې په ډول، د هغوی د خبرې د تاييد پر مهال له هغوی سره د سترګو اړيکه ټينګه کړئ او سر مو د هو په ښه وخوځوئ. د مقابل لوري د خبرو کولو پر مهال په منظم ډول کېناستل او يا هم ودرېدل نه يوازې دا چې ستاسې او مقابل لوري تر منځ د مينې اړيکه ټينګوي، بلکې ستاسې پر شخصي ثليقې هم دلالت کوي.
۵. له مقابل لوري سره د هغه تر مسلک ورهاخوا هم وپېژنئ. د بېلګې په ډول، تر مسلک پېژندلو وروسته له هغوی وپوښتئ چې ژوند يې څنګه دی؟ کوم هدفونه لري؟ له چا سره اړيکې او ناسته پاسته لري؟ څه يې خوښېږي؟ کومه لوبه يې زده ده؟ په دې سره به له هغوی سره لا صميمي او نږدې شئ. که ممکنه وي له هغوی سره يو ځای يو رسټورانټ ته د ډوډۍ لپاره لاړ شئ او يا هم يو ځای ته په چکر لاړ شئ.
٦. د نورو په نشتون کې په هغوی پسې خبرې مه کوئ. څکه له تاسې سره ناست کس بيا داسې فکر کوي، چې که چېرې زه هم نه وم، په ما پسې به هم خبرې کوي. کوښښ وکړئ چې د نورو د ښو عادتونو ستاينه وکړئ او له بدو هغو يې څه ونه وايئ. «غيبت مه کوئ.» دا هېڅ ممکنه نه ده چې يوڅوک دې بې عيبه او پاک وي، هرڅوک يو نه يو عيب لري، که غواړې چې د هغوی عيب له منځه يوسی، ښه ده چې له نورو پټ او تنا هغه ته په ښه ډول ووايئ چې دا مو ښه عادت او يا هم کړنه نه ده، که يې له منځه يوسی او يا يې نور ونه کړی، په خلکو کې به محبوبيت پيدا کړي.
۷. د مقابل لوري په پاک زړه او پرته له چاپلوسۍ احترام وکړئ. چاپلوس کس ډېر ژر پېژندل کېږي او که د يو چا تر زړه هم ور تېر شي، هغوی شک پرې کوي او دا هرڅه ته يې په بله سترګه ګوري. «چاپلوسي مه کوئ.» چاپلوسي مو پر ځان باور هم له منځه وړي او تل بيا د نورو په تاييد پسې ګرځې، که مو دا عادت خپل کړ، ژوند به ځان ته د دوزخ کنده کړی. «پوهېږم ستاسې هم چاپلوس کس نه خوښېږي.»
۸. مؤدب او با اخلاقه اوسئ. له نورو سره د خبرو کولو پر مهال منظم کېناستل يا ودرېدل، له هغوی سره د سترګو اړيکه ساتل، په دقت سره يې خبرې اورېدل، د خبرو چانس ورکول او د «لطفاً» او «منته کوم» يا «موږ څه خدمت کولی شو؟» کلمې کارول ټول د احترام ښکارندويي کوي. «دې ټولو ته پام وکړئ.»
۹. له حساسو بحثونو ځان وساتئ. له يو چا سره د ښو اړيکو ساتلو او لومړيو ليدو کتو پر مهال ښه ده چې پر حساسو مسايلو لکه سياسي، مذهبي او ټولنيزو هېڅ خبرې ونه کړئ. څکه دا مسايل حساسيتونه را پاروي چې ډېرې وخت د اړيکو پر خرابوالي تمامېږي. ممکن له ډېرو داسې پېښو سره مخ شوی ياستی. ښه ده چې له دې وروسته يې هېڅ ونه کړئ.
۱۰. دا زده کړئ چې څنګه له مقابل لوري خدای پاماني وکړئ. په پټه خوله يا يوناڅاپه پاڅېدو سره له هغوی سره خدای پاماني مه کوئ. ښه ده چې هغوی ته ووايئ، «په ليدو مو ډېر خوشاله شوم، بيا به انشاالله وينو، اوس موږ ته کوم خدمت شته!»
خو پام مو وي، دا کلمې هم خپل وخت لري، هسې نه د مقابل لوري خبره به خوله کې وي او تاسې ورته ووايی چې زه څم کار لرم، ما ته خدمت شته. ښه ده چې د خبرو کړۍ مو په ښه ډول رابنده او د پاڅېدو او خدای پامانۍ پر مهال دا کلمې ووايئ.
د جذاب اوسېدو، ځان او نورو ته په ارزښت قايلېدو لپاره احترام مهم دی، نه کوم تکنيک. که غواړئ چې د نورو لپاره جذاب و اوسئ، همدا مهارتونه مو پياوړي کړئ.

## گوترېش: د تاوتريخوالي کمښت به دايمي اوربند او سياسي جوړجاړي ته لار پرانيزي

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونيو ګوترېش ويلي، هيله من دی چې په افغانستان کې د تاوتريخوالي د کمښت لپاره خبرې رغنده پايلې ورکړي.
هغه ويلي چې د افغان سولې د ټينګښت هڅې له نږدې تعقيبوي او د تاوتريخوالي کمښت د سياسي جوړجاړي او دايمي اوربند لپاره حياتي دی.
ګوترېش زياته کړې: «زه دغه هېواد (افغانستان) ته د سولې د راتلو په هدف مهمې هڅې له نږدې تعقيبوم. کړکېچ ته د هر اړخيز حل تر لاسه کول د ژوند ژغورلو او دوامداره پرمختګ لپاره اړين دي. دا زما هيله ده چې د تاوتريخوالي د کمښت پر سر بحثونه رغنده پايلې ولري، په تېره بيا هغه تاوتريخوالی چې پکې د ملکيانو ژوند ته خطر پېښېږي. د تاوتريخوالي کمښت د سولې د داسې يوې پروسې د باور جوړونې او ملاتړ لپاره حياتي دی چې په مټ به يې سياسي جوړجاړی او دايمي اوربند رامنځ ته کېږي.»
دا په داسې حال کې ده چې امريکا او طالبانو د تاوتريخوالي د کمښت تړون نهايي کړی او تمه کېږي چې ژر د تاوتريخوالي د کمښت پروسه هم پيل شي .
امريکا ويلي، تمه لري چې د روانې فبرورۍ مياشتې تر پايه په افغانستان کې اووه ورځې تاوتريخوالي کم شي چې په دوام به يې له طالبانو سره تړون لاسليک کوي.
د امريکا دفاع وزير مارک اېسپر د شنبې په ورځ د مونيخ په امنيتي کنفرانس کې وويل چې د متحده ايالتونو او طالبانو تر منځ په افغانستان کې د يوې اونۍ په مخه د تاوتريخوالي د کمولو په اړه يوه معامله خورا هيله ښبونکې ښکاري، خو له خطره خالي نه ده.
په ورته وخت کې يوه بل لوړپوړي امريکايي چارواکي هم د موضوع د حساسيت په خاطر د نوم نه اعلانېدو په شرط د مونيخ امنيتي کنفرانس په څنډه کې رسنيو ته ويلي، چې امريکا او طالبان يوې معاملې ته رسېدلي او د تاوتريخوالي د کمښت پروسه به په ټول هېواد کې چې افغان پوځيان هم تر پوښښ لاندې نيسي، ژر پيل شي.
دا په داسې حال کې ده چې ځينو لوېديځو رسنيو ويلي وو چې له دوشنبې(پرون) به د تاوتريخوالي د کمښت پروسه پيلېږي، خو د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين ويلي چې د تاوتريخوالي د کمېدو ورځ تر دې دمه نه ده په ډاګه شوې. په ورته وخت کې تېره ورځ د طالبانو په جلاجلا بريدونو کې ډېرو دولتي سرتېرو ته مرګ ژوبله اوښتې او طالبانو ادعا کړې چې د افغان ځواکونو يوه پوځې الوتکه يې په نيمروز کې نسکوره کړې ده.

## ټاکنو کمېسيون: د روانې اونۍ تر پايه به د ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شي

د ټاکنو خپلواک کمېسيون له لوري د ځانګړې تفتيش پروسه تېره ورځ پای ته ورسېده او چارواکي يې وايي چې روانه اونۍ به وروستۍ پايلې اعلان شي.
د دغه کمېسيون غړي محمد حنيف دانشيار پرون رسنيو ته وويل، په تفتيش شوو رايو کې ۹۵ سلنه يې ريزلټ شيټ او نورو برخو کې ستونزې نه درلودې.
هغه ټينګار کړی چې له درغليو ډکې پايلې هېڅوک نه مني او دوی د قانون له مخې کار کړی دی.
دانشيار زياته کړې: «تاسې ته ډاډ درکوم چې تر راتلونکو دريو يا هم څلورو ورځو پورې به وروستۍ پايله اعلان کړو، د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون چې د ۱۰۲ زرو او ۱۳۷ زرو رايو په اړه کومې رايې تفتيش ته لېږلې وې، ۹۵ سلنه يې ريزلټ شيټ او نورو برخو کې ستونزې نه درلودې.»
نوموړي دغه راز ويلي چې دغه پرېکړې به لومړی د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ته واستول شي او وروسته به د ټاکنو خپلواک کمېسيون وروستۍ پايلې اعلان کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د پرېکړې پر بنسټ، له ۱۳۷٦۳۰ شکمنو رايو څخه ۱۰ سلنه او د ۱۰۲۰۱۲ له وخته مخکې کارول شويو رايو ۱۵ سلنه په ځانګړې ډول تفتيش شوې دي.
د ټاکنو خپلواک کمېسيون داسې حال دغه اعلان کوي چې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنيز ټيم د ځانګړې تفتيش بهير د تحريم ګواښ کړی دی.
عبدالله عبدالله تېره ورځ د وزيرانو شورا له غونډې وړاندې رسنيو ته وويل چې يوازې د ټاکنو مشروع پايلې به ورته د منلو وي.
هغه زياته کړې: «ثبات او همپالنې ټيم خپله پرېکړه کړې ده، موږ يوازې د ټاکنو مشروع پايلې منو او هغه پايلې چې د شفافيت په اساس نه وي، موږ ته د منلو نه دي، په دې برخه کې د ټيم مشرانو پرېکړه کړې او زما پرېکړه هم همدا ده.»
په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ يا فيفا اجرايوي مشر يوسف رشيد ويلي چې د ثبات او همپالنې ټيم دريځ د انديښنې وړ دی او هيله يې ښودلې چې د شکايتونو کمېسيون د دوی اعتراض ته رسېدنه وکړي.
دغه راز د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ يا ټيفا وياند محمد زبير حبيب زاده هم ويلي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د قانون خلاف دغه تفتيش پای ته رسولی او دا به ستونزې لا زياتې کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۸۳,۵۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایگل چاپ

WAYGAL PRINTING CO

WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۸مه |۵۱٦مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۱ | ۲۰ | ۷ | ۲۵ | ۲۳ |
| ۱- | ۱- | ٤ | ۱- | ۹ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:۳۷ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۳:۱٤ | ماښام ۰۵:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۰۳

## نړۍ




## ټرمپ: د سوریې په ادلیب کې روان کړکېچ د اندېښنې وړ دی



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خپل ترکي سیال رجب طیب اردوغان سره د خبرو پر مهال د سوریې په ادلیب کې پر روان تاوتریخوالي اندېښنه ښودلې ده.

سپینې ماڼۍ ویلي، په دې ټلیفوني خبرو کې ټرمپ پر روسیې غږ کړی چې د سوریې رژیم د (بې‌رحمیو) ملاتړ پای ته ورسوي.

نوموړي دغه راز د سوریې د نهه کلنې جگړې پای ته رسېدو لپاره پر سیاسي حل‌لارې ټینگار کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې یوه ورځ وروسته انقره او مسکو بیا خپلو کې خبرې وکړي. د یادونې ده چې ترکیه د سوریې د رژیم د مخالفینو او روسیه بیا د بشارالاسد د حکومت پلوي کوي.

د راپورونو له مخې، د روسیې په هوایي ملاتړ سوري ځواکونو په الیپو ولایت کې د پام وړ پرمختگ کړی او د مخالفینو د وروستي سنگر ډېرې برخې یې نیولې دي.

ترکیې چې د بشارالاسد د مخالفو جنگیالیو ملاتړ کوي، روسیې ته خبرداری ورکړی چې په ادلیب کې دې روان پوځي عملیات پای ته ورسوي.

ترکي چارواکو دغه راز ویلي، که د سوریې ځواکونه د همدې میاشتې تر پایه له ادلیب ښاره ونه وځي، ښايي ترکیه یې پر وړاندې پوځي اقدام وکړي.

## علیوي: امریکا تر زرو ډېر داعش جنگیالي له سوریې عراق ته لېږلي

د عراق د پارلمان غړي کریم علیوي ویلي، امریکا تر زرو ډېر داعش جنگیالي له سوریې عراق ته لېږلي دي. نوموړي له العلومه خبري شبکې سره په خبرو کې ویلي، امریکا هڅه کوي چې د عراق د غربي ښارونو د وضعیت پر گډوډولو سره وښيي چې لا هم داعش ډله له منځه نه ده تللې، ځو په دغه هېواد کې د خپلو ځواکونو حضور ته توجیه پیدا کړي.

نوموړي ویلي، دغه جنگیالي د دې لپاره چې هویت یې خوندي پاتې شي، له خپلو کورنیو سره یوځای د عراق په لوېدیځو ښارونو کې ځای پر ځای شوي دي. د یادونې ده چې د عراق پارلمان بیا بیا له امریکا غوښتي چې له دغه هېواده خپل ځواکونه وباسي، خو د دغه هېواد ولسمشر ته د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، دوی په دغه هېواد کې په ملیاردونو ډالره پانگونه کړې او که عراق د ځواکونو وتل غواړي، نو باید د دوی لگول شوې پیسې بېرته ورکړي.

د عراق د پارلمان د دفاعي کمېسیون دغه غړي زیاته کړې، چې امریکا هڅه کوي له سوریې څخه د داعش ډلې پاتې مهم جنگیالي دغه هېواد ته ولېږي، چې په خبره یې، بغداد باید د دغه کار د مخنیوي لپاره ژر تر ژره اقدام وکړي.

## کارمندان تنقیص شده در جوزجان درب تمام دوایر دولتی را برای دهمین روز بستند



کارگران تنقیص شدۀ ریاست هایدروکاربن های شمال، در دهمین روز اعتراضات شان، درب تمام ادارات دولتی را در شهر شبرغان بستند.

این اعتراض کننده ها می گویند که اخیراً ۵۱۲ کارمند و کارگر ریاست هایدروکاربن های شمال، تنقیص شده اند.


صدها تن از هواداران جنرال عبدالرشید دوستم معاون اول ریاست جمهوری نیز در همصدایی با این کارگران، در کنار آنها ایستاده و برای حق طلبی مامورین تنقیص شده، دادخواهی کردند.

نجیبه معلم دریکی از مکاتب شهر شبرغان که برای کارگران دادخواهی میکند، گفته است: «امروز به عنوان اعتراض، دروازه تمام ادارات دولتی را در شهر شبرغان بستیم تا حداقل به افرادی که در برابر کارگران تصمیم عجولانه و نادرست گرفته اند، بفهمانیم که ما نیز میتوانیم کار حکومت را به چالش بکشیم.»

وی افزوده است که اگر مقامات مسؤل در مورد تنقیص ۵۱۲ کارگر تفحصات تجدید نظر نکنند، اعتراضات شان را گسترش داده و حتی در مقابل دروازۀ ارگ در کابل، به اعتراضات شان ادامه می دهند. عبدالشکور یکی از کارگران تنقیص شده به رسانه ها گفته است: «اگر مقامات در قسمت پاسخگویی به معضل ایجاد شده تصمیم لازمه را اتخاذ نکنند، دامنۀ این اعتراضات تا پشت دروازه های ارگ خواهد رسید و آنگاه مسئولیت به دوش خود مقامات است.» در این حال، عبدالقادر مالیه معاون و سرپرست مقام ولایت جوزجان، انسداد دفاتر دولتی در شهر شبرغان از سوی اعتراض کننده گان را تائید کرده و گفته است: «ما به منظور رفع این معضل، نامه ای را به مرکز گسیل داشته ایم و در این مورد منتظر تصمیم مقامات هستیم.»

## ژونـــد


## انسان د احسان تابع دی



کله کله په کاري محیط کې د درناوي لفظ ډېر بې مانا او بې ارزښته گڼل کېږي. دا موضوع دومره ښکاره ده چې ان په اړه یې خبرو کولو ته اړتیا نشته. پوهېږو چې که چېرته مدیران له خپلو کارکوونکو سره ښه چلند وکړي، کارکوونکي به یې هم د زړه له تله کار کوي او ارتقاع به کوي. البته که په دې پوه شي چې ارزښت ورکول کېږي او باور ور باندې شوی دی. په دې هم پوهېږو چې ټول دا غواړي څو په داسې محیط کې کار وکړي چې وکولای شي وده وکړي، هلته ملگري ولري او وکولای شي چې خپل ځان پیدا کړي. کېدای شي چې زموږ په کاري چاپېریال کې د مقابل درناوي ریښتې دومره نه وي غځېدلې، څومره چې موږ باور لرو. دلته یو عالي فرصت لیدل کېږي. کله چې خلک د دې احساس وکړي چې درناوی ورته کېږي، نسبت خپل ځانته ښه احساس کوي او هغه خلک چې د ښه والي احساس کوي، کارونه په ښه توگه تر سره کوي.

## سترگې ولې غیر اختیاري رپېږي؟

د سترگو رپېدل د کوم خبر خبرداری نه، بلکې په غیر ارادي توگه د سترگو د شاوخوا عضلاتو انقباض دی چې ډېر لاملونه لري. دا رپېدل کله کم، خو کله دومره ډېر وي چې ځورونکي شي. د سترگو ستړیا، کم خوبي، د سترگو خشکي، له کچې زیات د کافي او انرژۍ لرونکو څښاکو ډېر کارول او د وجود د اوبو کمېدل د دې لامل کېږي چې سترگې ورپېږي. خو د سترگو د بې واکه رپېدو تر ټولو لوی سبب سټریس او اضطراب دی. خو که هر ډول وي، اندېښنه مه ورته کوئ، ډېرې لارې چارې شته چې پر کارولو یې ستاسو د سترگو بې واکه رپېدا ښه کیدای شي. د کوم بد خبر انتظار هم مه باسئ، ځکه د سترگو رپېدل له ښه او بد خبر سره هیڅ تړاو نه لري.



خپلې سترگې هرڅومره کلکې چې پټولی شی، پټې یې کړئ. بیا یې هرڅومره چې پراخې پرانیستلی شی، پرانیزئ. البته دومره نه چې سترگې مو درد وکړي. د سترگې لاندینۍ وروځې په خپلې منځنۍ گوتې په دایروي شکل ورو مالش کړئ. دا میتود د سترگو شاوخوا د وینې جریان نورمالوي او د سترگو اوښتل را اوښتل فعالوي او بې واکه رپېدل یې کموي.




## ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank